## (3) کنه ضمیمه

## د مقالو د ادبي مرور طرزالعمل

<table>
<tr><th>شماره</th><th>موضوع</th><th colspan="2">شرح</th></tr>
<tr><td>1</td><td>د طرحي<br>هدف</td><td colspan="2">✓ د علمي مقالو د ليکلنې او ادبي کتنې سهولتونه رامنځ ته کول<br>✓ د ليک دود او ادبياتو له نظره د علمي مجلې د معياري کيدل<br>✓ په ملي او بين المللي کچه د معياري ممقالو ترتيبول</td></tr>
<tr><td rowspan="5">2</td><td colspan="3">د مقالې د منلو شرايط</td></tr>
<tr><td>د مقالي د<br>ليکو ژبه</td><td colspan="2">د مقالي د ليک ژبه بايد ملي وي.<br>مقاله بايد له ملي ژبو په يوه ( پښتو يا دري ) و لکيکل شي.</td></tr>
<tr><td rowspan="3">د ليک دود<br>قواعد</td><td>د ليک دود<br>نښې</td><td>په ژبې کې دصحيح ليکلو او لوستلو له پاره د ليک دود قواعد او اصولو اړين مرعات دی .هره ژبه ځان ته خاص سيستم او قواعد لري که چيرې د جملو په جوړولو کې دژبې قواعد او سيستم په نظرګ ې ونه نيول شي نو کومې جملې چې د ليک له پاره جوړيږي هغه به بې معنا او بې مفهومه وي. د ليک دود نښې لکه: کامه(، )، نقطه(.)، سيمی‌کالن(؛ )، شارحه(:)، لوی، منځني او کوچني قوسونه ()[]{}، سواليه(؟)، ندايه (!) او داسې نورې د ليک دود نښو پځپل ځای وکارولو ته بايد پوره پام شوی وي. رياضيکي، فزيکي، کيمياوي او سمبولو او واحدات د نړيوالو معيارونو او سيستمو نو سره سم په ملي ژبو وليکل شي خو که چيرې کوم سمبولونه او واحدات په ملي ژبو د حروفو او سمبولونو په مستعاره بڼه د فهم وړ نه وي نو هماغه نړيوال شکل ليکل يې غوره دي. خو د علمي مقالې نور اړوند ارقامو د ملي ژبو سره سم وليکل شي.</td></tr>
<tr><td>املاء و انشا<br>اصطلاحات</td><td>د املأ، انشأ او د اصطلاحاتو په صحيح بڼه ليکل د درک او فهم زياتوالي او ژبو د ليک دود له اړينو بروخې ګڼل کيږي نو بايد د علمي مقالو کليمات او اصطلاحات په خپله اصلي صحيح بڼه ليکل شوي وي او د کليماتو اړين بيلوالي لپاره د ليک دود سر سم يوه فاصله، متصل بغير له فاصلي او نيمه فاصله په پام کې نيول شوې وي. د نور ژوبو کليمات په مستعار ډول د ملي ژبې په توريو او خپله د بلې ژبې اصلي کلمه په قوس کې ليکل شوي وي.</td></tr>
<tr><td>جملې</td><td>د سلاست، ښه درک او د مفهوم د غوره او پوره انتقال په موخه د ژبو په ليک دود کې د جملو ترکيب او کليمات پځپل ځای کارول ډير اړين ګڼل کيږي نوځکه د علمي مقالو د جملو او متن ليکلو پر وخت د جملو په ترکيبي جوړښت کې د فعل، فاعل او مفعول ځايونه رعايت او پوره پآم شوی وي همدارنګه د جملو په ترکيب کې د مبدا او خبر برخې منظمې او د فهم وړ وي. په جملو کې مناسب صفات، مصدرونه، د ربط حروف، او پيوستون کليمات، مختاړي او وروستاړي په خپل وړ ځايونو کارول شوي وي. په جملو کې بځايه غير منطقي لنډ والي او درزاولي مخنيوی شوی وي. د روان لوستلو او درک په موخه د جملو د ليکل سبک صحيح او منظم ترتيب ولري.</td></tr>
</table>

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | کونګې اضافي تکراري، بيځايه جملو نه وي ليکل شوې. په پښتو جملو کې پنځه واړه ياګانې په صحيح ډول ليکل شوي وي او همدارنګه منفي، مثبت او بيانيې جملې په پوره روښانه بڼه ليکل شوې وي. په جملو کې د مفرد او جمع ضماير او اسمونه بخپلو مناسبو ځايونو کارول شوي وي. |
| | | پراګرافونه | د علمي مقالو پراګرافونه د موضوع د محتوی او حمايوي او پايلې اخيستنې د جملو په رعايت سره تنظيم شوي وي ، د پراګراپونو د غير منطقي اوږدوالی او لنډلوالي نه مخنيوی شوي وي. د وموضوع اړوند پروګرافونو يوالی او تسلسل ساتل شوی وي. د پراګراپونو جلاوالی يا د دوه پراګرافونو ترمنځ د توپير په موخه لومړی کرښه د فراکراف د نورو کرښو سره توپير ولري. |
| | | د سر ليکونو درجه بندی | د علمي مقالې سرليکونو يا عناوينو درجه بندي د ليک دود د قواعدو حتمي برخه ده نو بايد د ليک دود له قواعدو او وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې دعلمي مجلې د شکلي طرزالعمل مطابق ترتيب او تنظيم شي. |
| | د علمي تخصصي ژبې رعايت | علمي اړوند اصطلاحات | د علمي مقالې متن کليمات اواصطلاحات د ځانګې او موضع سره بايد مناسب تړاو ولري. په په علمي مقالو کې د ناوړه، غير متناسبو، محلي او د ملي ژبو يا مقلې د ليک ژبې پرته د نورو ژبو کليمات او اصطلاحاتو نه وي ليکل شوي. که په ملي ژبو کې بديل نه وي په هغه صورت کې لاتيني اصطلاحات د نورو ژوبو کليمات او اصطلاحات په مستعاره بڼه داسې وليکل شي چې د ملي ژبو د ليک دود سره سمون ولري. علمي نومونه د نړيوالو معيارو په بسټ په صحيح بڼه ليکل شوي وي. |
| | | د علمی غيرمرتبط اصطلاحات | په علمي مقالو کې بايد له اړتيا پرته د نور ځانګو او برخو غير مرتبط اصطلاحات ونه کارول شي خو که چيرې کارول يې اړين وي نو د کارولو ځای پوره دقيق، روښانه او مناسب وي او د موضوع د اصلي محتوی درک او پيغام پرته له کوم شک وليږدول شي. |
| | | د اصطلاحاتو استعمال | - د علمي مقالې د متن د جملو په ترکيب کې نامفهومه او متناقض کليمات او صطلاحات نه وي کارول شوي. د عاميانه، محلي کليمات او ډېر تکراري ناوړه او غير موجه کليماتو نه وي استعمال شوي. که په ملي يا د مقالې د ليک په ژبو کې د علمي او غير علمي کليماتو اواصطلاحاتو معادل کلميات او اصطلاحات شتون ولري نو د غير علمي کليماتو او صطلاحاتو پوره مخنيوی اړين دی. |

د څېړنو او علمي مجلې آمر — د علمي او محصلانو چارو مرستيال

پوهنيار زاهد الله زاهد — پوهنيار دکتور عنايت الرحمن مايار